دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ.

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

الله پاک تاسې ته امر کوي چې امانتونه خپلو خاوندانو ته وسپارئ. او چې کله مو د خلکو په مینځ کې پریکړه او حکم کـاو، نو باید په عدل او انصاف سره يې وکړئ. بیشکه الله پاک تاسې ته ډېر ښه نصیحت کوي. او الله پاک ښه اوریـدونـکـې او ښـه لیدونکې دی. (النساء: ۵۸)

درس حدیث

از جابر (رضی الله عنه) روایت است که:
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: از ظلم بپرهیزید، زیرا ظلم تاریکی های روز قیامت است. و از آزمندی بپرهیزید، زیرا آزمندی مردمی را که پیش از شما بودند، هلاک ساخت، وادار شان کرد، تا خونهای شانرا بریزند، و محارم شانرا حلال شمارند. (الحدیث)

شهادت شپږم کال، ۱۱ مه ګڼه، پرله پسې ۲۵۵ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۳ هـ ل د غبرګولی ۱۳ مه د ۱۴۳۵ هـ ق د شعبان المعظم ۴ مه د ۲۰۱۴ م د جون ۳ مه

استقبال گرم مردم شریف ولایت بادغیس از تیم اصلاحات و همگرایی

داکتر عبدالله عبدالله رهبر تیم انتخاباتی اصلاحات و همگرایی روز دوشنبه در میان هزاران تن از هواداران این تیم در ولایت بادغیس حضور یافت.
باشندگان این ولایت اعضای تیم اصلاحات و همگرایی را به صورت ویژه استقبال کردند. رهبر تیم اصلاحات و همگرایی به باشندگان ولایت بادغیس می گوید که در بادغیس در جریان سال های گذشته خدمت نشده است.
داکتر عبدالله عبدالله به باشندگان ولایت بادغیس وعده می دهد که در صورت پیروزی، این ولایت را با استفاده از برق وارداتی ترکمنستان روشن خواهد کرد. توجه به معارف و تحصیلات عالی و ایجاد بندهای آب گردان از دیگر کارهای است که ...

(ص، ۴)

مستغني:

که له پاکستان سره ډیپلوماتیکو هڅو نتیجه ورنکړه، پوځي اقدام به وکړو

کابل، رسنۍ:
د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت ویلي، که چیرې د پاکستان له خوا د راکټي او هوايي حملو د مخنیوي لپاره ډیپلوماتیکو هڅو نتیجه ورنه کړه، افغان حکومت به بلاخره پوځي اقدام وکړي.
د دغه وزارت ویاند د دوشنبې په ورځ په یوه خبري غونډه کې وویل، افغان حکومت له امریکا متحده ایالتونو څخه هم غوښتني چې د کونړ پرسرحدي سیمو د پاکستان د راکټي او هوايي حملو په اړه خپل دریځ روښانه کړي.
له بلې خوا یو شمېرافغان کارپوهان وایي، امریکا متحده ایالتونه افغانستان د یوه خپلواکه هېواد په توګه نه پېژني نو همدا مساله د دې لامل شوې چې په داسې یوه حالت کې څه ونه وایي.
د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت خبرداری ورکړی که پاکستان د کونړ ولایت پر سرحدي سیمو ...

(۴ مخ)

کرزی: امنیتي ځواکونه باید په ټاکنو کې بې طرفه پاتې شي

افغان ولسمشر حامد کرزي، د فرمانونو له صادرولو سره پر امنیتي ځواکونو او حکومتي کارکوونکو بانديې غږ کړی دی چې د ولسمشریزو ټاکنو په دویم پړاو کې بې طرفه پاتې شي او د رنو او سراسري ټاکنو ملاتړ وکړي.
د ولسمشریزو ټاکنو په لومړي پړاو کې د ټاکنو مرکزونو ته په غیرقانوني ډول د امنیتي ځواکونو د ننوتو او د یوه خاګړي نوماند په ګټه د صندوقونو د ډکولو له کبله هم شکایتونه شوي ول.

(۴ مخ)

اعلان حمایت

شورای عالی وحدت مردمی منورین چهاردهی کابل

عبدالحمید نصرت
رئیس تشکیلات شورای عالی وحدت مردمی منورین چهاردهی کابل

موقف شورای عالی وحدت مردمی منورین چهاردهی کابل در رابطه به دور دوم انتخابات به تاریخ ۱۰ / ۳ / ۱۳۹۳ هیئت رهبری شورا و رؤسای کمیته های چهارده گانه متنفذین، قوماندانان جهادی، وکلای گزر، جوانان و کمیته انائیه شورا تدویر جلسه نمود. در ابتدا اعضای شورا در رابطه به اوضاع سیاسی کشور روشنایی انداخته و مردم را متوجه مسؤولیت های شان در قبال دور دوم انتخابات نمود و مردم را به وحدت و همدلی متوجه ساخته بعداً اهداف و برنامه های دو تیم که به دور دوم به انتخابات میرود به خوانش گرفته شد و هیئت رهبری شورای عالی وحدت مردمی منورین چهاردهی کابل چنین فیصله نمودند که ما باید از تیمی حمایت و پشتیبانی خویش را اعلان کنیم که تیم مسلمان، افغان، مجاهد و غمخوار مردم باشد. تیمی که در غم و خوشی مردم بیچاره افغانستان شریک باشد.
انجنیر میرویس رحیمی رئیس شورا به اعضای مجلس خطاب نمود که کشور و وطن من و تو در برابر...

(ص، ۴)

انتخابات دور دوم ریاست جمهوری و تشویش برخاسته از نجواهای پشت پرده برای مهندسیهای جدید

فدامحمد فایض

تاریخ دور دوم انتخابات ریاست جمهوری با گذشت هر روز نزدیکتر میشود. روز ۲۴ جوزا ان شاء الله روز دور دوم انتخابات خواهد بود و مردم ما با شور و هلهلهٔ فراوان در آن اشتراک خواهند ورزید. جلساتی که از سوی تیم اصلاحات و همگرایی در ولایات مختلف تدویر یافت و هنوز هم ادامه دارد نشاندهندهٔ آن است با آنکه مردم در دور اول با علاقه مندی در انتخابات سهم گرفت و با چالشهای امنیتی وجوی دست و پنجه نرم کرد؛ ولی مداخله یی که در نتایج انتخابات صورت گرفت و از روی یک مهندسی خاص صورت گرفت انتخابات را بدور دوم کشانید؛ اما این مداخلات مردم ما را بیشتر از گذشته مصممتر ساخته است که نتیجهٔ آن اشتراک پر شور مردم ما در انتخابات دور دوم خواهد بود. اگر باز هم مانند دور اول از روی یک مهندسی خاص در نتایج انتخابات مداخله صورت نگیرد، باور داریم که تیم اصلاحات و همگرایی برندهٔ انتخابات خواهد بود، زیرا تیمهایی که در دور اول از روند انتخابات خارج شدند؛ ولی آرای شان قابل حساب است همه با تیم اصلاحات و همگرایی پیوستند و برخی امروز (۱۳ جوزا) پیوستن خود با این تیم را اعلان خواهند کرد، فلهذا این تخمین که ان شاء الله تیم اصلاحات و همگرایی برنده شود، چندان دشوار نمی نماید.

البته یک تشویش که ما بارها به آن اشاره کرده ایم هنوز هم موجود است، چنان می نماید که کاخ نشینان ارگ هنوز هم متقاعد نشده اند که از قدرت کنار بروند بلکه میخواهند آب را گل آلود ساخته و نتایج انتخابات را با چالش مواجه کنند و باز فیصله را در اختیار مراجع عدلی بسپارند. این شک و این تشویش موجود است؛ ولی آرزوی ما این است که دولت فعلی و زمامداران فعلی بپذیرند که دیگر براساس حکم قانون اساسی زمان شان بپایان رسیده و باید جای خود را به دیگران تخلیه کنند و کشور را بیشتر ازین به آغوش بحران نه بسپارد. ما تنها همین یک آزمون عبور موفقانه از انتخابات را پیش رو نداریم، بلکه می بینیم که کشور ما از هر سو مورد تهدید است. توطیه های مختلفی در کار است که افغانستان تا یک مدت مدیدی درگیر جنگ باشد و فرصت نیابد تا به پای خود بایستد که به این ترتیب دولت ضعیف افغانستان تا مدتها دستنگر دیگران خواهد بود. ...

(ص، ۳)

برادر شهیدم انجنیر محمد سرور «سعادت»

بیست و هفتمین سال شهادتت مبارک باد

اقبالیار بابکرخیل

شهید محمد سرور «سعادت» فرزند حاجی محمد انور بابکرخیل مربوط ولایت کابل ولسوالی ده سبز قریه بابه قشقار در سال ۱۳۲۸ هـ ش در یک خانوادهٔ متدین و مجاهد چشم به جهان گشود. تعلیمات ابتدایی را در مدرسه محل به پایان رسانیده، بعداً شامل مکتب گردید و الی صنف ۶ در مکتب شاولی مصروف تحصیل گردید. دوره ثانوی را در مکتب صنایع الی صنف نهم در رشته خیاطی ادامه داده و سند فراغت را بدست آورد شامل لیسه میخانیکی کابل گردیده و باقی تحصیلات خویش را در رشته برق بپایان رسانید.
شهید انجنیر محمد سرور از اوایل نهضت اسلامی ...

(ص، ۴)

هرات کې د هندي موسيقۍ مشر تښتول شوی

هرات، رسنۍ:
په افغانستان کې د جي ار سي هندي موسیقۍ مشر، پریم کمار پرون په هرات کې د ناپېژندل شویو وسله والو کسانو له خوا تښتول شوی دی.
د هرات والي سید فضل الله وحیدي پېښه تایید کړې او ویلي يې دي چې نوموړي موسیقۍ ...

(۴ مخ)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

تیم اصلاحات و همگرایی در آستانهٔ پیروزی نهایی

انتخابات شانزدهم حمل بخیر گذشت. با آنکه این انتخابات بدون قربانی نبوده است، هم افراد ارگانهای امنیتی قربانی دادند و هم مردم عامهٔ ما، بخصوص اوضاع جوی و وضع امنیتی دو چالش عمده بر سر راه انتخابات قرار داشت؛ ولی همتی که مردم ما به ارتباط اشتراک در انتخابات از خود تبارز دادند همهٔ دنیا را بهت زده ساخت؛ زیرا باوجود تهدیدها مردم بدون ترس و هراس و با قبول هر نوع خطرات به پای صندوقهای رأی رفتند و به کاندیدای مورد نظر خود رأی دادند؛ اما گوله باری را که کمیسیون انتخابات و کمیسیون شکایات بر پشت این انتخابات بستند، خیلی عجیب بود. کمیسیون انتخابات خود اعتراف کرد که بیش از پنج هزار کارمند ما در تقلب سهم ایفا کرده اند. با آنکه شکایات تا حدی بررسی شد؛ ولی سرنوشت در حدود شش صد هزار رأی معلوم نشد. تیم اصلاحات و همگرایی طی یک کنفرانس خبری با ارائه اسناد خود کمیسیون انتخابات نشان داد که چگونه ۴۱۴ رأی درج یک فورم که به نفع تیم اصلاحات و همگرایی داده شده بود چلیپا شده و به ۱۴ رأی تقلیل داده شده بود و ۲۰ رأی تیم تحول و تداوم به ۵۲۰ رأی افزایش داده شده بود و مثال های دیگری هم که حتی آرای شوراهای ولایتی به نفع تیم تحول و تداوم شمرده شده بود. خلاصه نتیجهٔ این همه مهندسیها این شد که انتخابات را به دور دوم کشانیدند و تیم اصلاحات و همگرایی هم با دل نخواسته بخاطر رعایت منافع علیای کشور رفتن به دور دوم انتخابات را پذیرفت و حوصله مندی و سعهٔ صدر را بنمایش گذاشت. آنچه صورت گرفت از انظار عامه پنهان نماند؛ اما این بار تیم اصلاحات و همگرایی با قوت بیشتر و حمایت بیشتر مردم ما ازین تیم و پیوستن تیمهای قابل حساب دیگر، به پای صندوقهای رأی میرود و ان شاء الله این بار رأی بیشتر از دور اول بدست خواهد آورد.

تیم اصلاحات و همگرایی در بین دو تیم باقی مانده در صحنه که به مصاف انتخابات دور دوم خواهند رفت، جایگاه بیشتر مردمی دارد. این تیم بخصوص با ترکیب جدید خود را در مقایسه با تیم رقیب خیلی نزدیکتر بصفوف ملت می داند؛ زیرا قوتهای شامل این تیم در روزهای دشوار در کنار ملت خود بودند و نشده که با گذشت آن حوادث خونین و برگشت آرامش نسبی به کشور بال گسترده و از اقصای دنیا بعد از سپری کردن روزهای آرامش در قصرهای مجلل به کشور آمده باشند و «تاج دروغین تفکر» بر سر نهاده در فکر رسیدن به ارگ ریاست جمهوری باشند.

تیم اصلاحات و همگرایی بمنظور حفظ ارزشهای جهاد و حفظ سایر ارزشهای عقیدتی و ملی و خدمت بمردم رنجدیدهٔ این کشور اعلان آمادگی بخدمت کرده است، فلهذا مسؤولیت فرد فرد ملت مسلمان و مجاهد افغانستان است تا ازین تیم حمایت کند، البته حساب آنانی که در خم تعصبات قومی و زبانی رنگ شده اند و همه چیز را در چهارچوب این تعصبات می سنجند جداست، ما در حق آنها هم بحیث مسلمان دعا میکنیم که دلهای زنگ زدهٔ شان صیقل شود و بتوانند بین خوب و بد تمییز کنند.

✍ عبیدالله صافی

ایا اشرف غني له مولانا مودودي (رح) وروسته دویم لوی دیني عالم هم جوړ شو؟!

لکه څرنگه چې د لمر رڼا یو واقعیت دی او هیڅوک له هغې نه انکار نشي کولای، همداسې په اشخاصو کې هم د چا له قابلیت او استعداد نه څوک سترگې نشي پټولای، هر څوک چې په کومه رشته او فن کې واقعي استعداد لرونکی وي دهغه استعداد په ولسونو کې منل شوی وي او هر څوک یې ستاینه او تعریف کوي؛ د مثال په ډول د سید جمال الدین افغاني، علامه اقبال، سعدي، عبدالرحمن بابا، مولانا رومي، خواجه حافظ او ددوی په څېر سل گونه داسې علماء او پوهان تیر شوي دي چې دهغوی لیکنې او قلمي اثار نن هم د نړی د میلیونو وگړو پر زړونو پاچاهي کوي، هغوی له دې نړۍ سترگې پټې کړي او جسماً فاني دي، پر بل د خپل علم د تثبیت او د خپل شخصیت د منلو لپاره نه لویې لویې غونډې کوي او نه هم د رشوت په ورکولو رسنۍ موظفوي چې دهغوی صفت او ستاینه وکړي او لدې لارې د خلکو کې په زړونو کې ځای پیدا کړي. عالم او پوه شخصیت دیته ضرورت نه لري چې خپل ځان پر خلکو وپیژني؛ بلکې ددې حق په سلو کې سل خلکو ته ورکړی چې دهغوی د علم په اړه پخپله قضاوت وکړي. همدا لامل دی چې د کومو پوهانو او علماو قابلیت مسلم دی خلک پخپل شوق دهغوی وېناوې هم اوري او کتابونه یې هم لولي. ما هم پخپل ټول ژوند کې داسې پوه او قابل شخص نه دی لیدلې چې د خپل قابلیت صفت یې پخپله کړې وي او یا یې هم د ډیرو پیسو په مصرفولو نورو ته دستور ورکړی وي چې په خلکو کې دهغوی ستاینه وکړي او جعلي شهرت یې خپور کړي.

(مشک آنست که خود ببوید نی آنکه عطار بگوید)

زموږ په هېواد کې چې له کومې ورځې نه د ولسمشرۍ د څوکۍ لپاره انتخاباتي کمپاینونه پیل شول نو ښاغلی اشرف غني افغانانو ته د نړۍ د دویم متفکر په توگه د خپل ځان د پیژندلو غږ پورته کړ او مزدورو رسنیو هم اشرف غني ته د جامع الکمالات د لقب ورکولو اوازې خپرې کړی، په داسې حال کې چې دغه رسنیو او خرڅ شویو غوړه مالانو لدینه وړاندې کله هم پخپلو رسنیو کې هغه د مفکر او یا هم لږ تر لږه د یو قابل شخص په توگه نه و یاد کړی؛ خو کله چې د ولسمشرۍ څوکۍ ته ودریږ او په څولۍ کې یې پیسې پیدا شوې؛ نو له فضلو نه فصل الرحمان او له نصرو نه نصر من الله جوړ شو، هغه اشرف غني چې په سلو کې لسو افغانانو هم دهغه نوم نه پیژانده، یو دم د نړۍ د دویم متفکر او جامع الکمالات په نوم د معرفي کولو هڅې هم گړندی شوې، په داسې حال کې چې د نړۍ دغه دویم مفکر او جامع الکمالات لدینه وړاندې کله هم پخپله خوله، نه پر سپیڅلی اسلام د پوهېدو غږ اوچت کړی او نه یې هم چیرته په اسلامي علومو کې داسې کوم کتاب یا رساله لیکلی چې پوهان او علماء دهغه پر لیکنه استناد وکړي او یا یې هم چیرته په درسي نصاب کې شامل کړي؛ خو متأسفانه اوس د جعل له لارې ددغې خبرې د ثابتولو ناوړه هڅه کېږي چې ښاغلی اشرف غني په اسلامي برخه کې له مولانا مودودي سره پرتله کړي او له هغه وروسته په اسلامي برخه کې باید د اشرف غني شخصیت ته په درنښت وکتل شي، لکه چې باور ورځپاڼې د غویي د یوولسمې په گڼه کې لیکلي دي: "ښاغلی اشرف غني هغه شخصیت دی چې په اسلام کې له مولانا مودودي وروسته په اسلامي برخه کې باید ده ته په یو شخصیت قایل شو."

چیرته مودودي او چیرته اشرف غني! د دواړو ترمنځ د آسمان او زمکې هومره توپیر دی. مودودي (رح) په اسلامي علومو کې د ژوند په ټولو اړخونو سلگونه تصانیف او تالیفات لري؛ مگر اشرف غني تراوسه پورې څو پاڼې مقاله هم نه ده لیکلې. خدای د خیر کړي، هسې نه چې سبا ته یو بل لیکوال د جوش په نشه کې له حضرت عمر بن عبدالعزیز نه وروسته اشرف غني د دویم قابل شخص په توگه معرفي نه کړي. مودودي (رح) هغه شخصیت دی چې دهغه د کتابونو په لوستلو لسگونه سرسخت اهل کتاب او کمونستان مسلمانان شوي دي، مگر اشرف غني تراوسه د خپلې کورودانی په مسلمانولو هم نه دی توانیدلی. داسې یو څوک چې خپل مؤمن به کتاب قرآن کریم هم په صحیح تلفظ نشي ویلای هغه ته له مولانا مودودي وروسته دویم لوی شخصیت ویل څومره د حیرانتیا او نه منلو خبره ده!

ښاغلی اشرف غني په ټاکنیزو کمپاینونو کې لسگونه غونډو ته وېناوی او تقریرونه کړي دي: خو په یوه غونډه کې هم له (بسم الله الرحمن الرحیم) پرته نه یې مسنونه خطبه ویلی او نه یې هم د قرآن کریم څو آیتونه او نبوي احادیثو څو جملې لوستلي دی، د خپلو خبرو د تائید لپاره یې نه چیرته په کوم تفسیر او مفسر حواله ورکړی او نه هم د احادیثو له کتابونو څخه یې کوم کتاب او باب ته اشاره کړی؛ داسې یو شخص چې لږ تر لږه د څو تفاسیرو او د څو احادیثو د کتابونو نوم قدری هم نه پیژني، په اسلامي برخو کې هغه ته له مولانا مودودي وروسته د دویم لوی عالم لقب ورکول له اسلام او مسلمانو سره څومره ستره جفا ده؟!

ښاغلي اشرف غني هم د نورو انسانانو په څیر یو انسان دی، پر ټولو علومو پوهیدل او متخصص کیدل د هیچا له وسه پوره نه دي، د انسانیت ستر لارښود حضرت محمد صلی الله علیه وسلم تر ټولو کامل بشر دی یوه ورځ یې اصحابو کرامو ته وویل چې له الهي وحې نه پرته په دنیوي کارونو کې تاسی له مانه زیات پوهېږئ. (مشکوة)

څکه خو په دنیوي کارونو کې به یې له اصحابو کرامو ان چې له ښځو سره هم مشوره کوله چې تفصیل یې د نبوي سیرت په کتابونو او احادیثو کې موجود دی؛ مگر ښاغلی اشرف غني او دهغه کمپاینران ادعا کوي چې هغه په نننۍ عصر کې په اسلامي علومو کې هم بې ساری دی او په عصري علومو کې هم. له همدې ځایه معلومېږي چې هغوی څومره وارخطا دي او په وارخطایي کې د خپل نوماند جامع الکمالات په معرفي کولو کې څومره غلو کوي، په داسې حـــال کې چې هغه د اولس په وړاندې دی او دهغه هره خبره د علم او فکر په تله کې تلې او قضاوت ورباندې کوي.

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم خپل امت له غلو نه منع کړي او فرمایلی یې دي چې تاسې د حضرت عیسی علیه السلام په څیر زما په اړه غلو مه کوئ او له هغه څه مې پورته مه گڼئ چې الله ماته په نصیب کړي دي، مخکینې امتونه څکه هلاک شول چې غلو یې وکړه او پیغمبرانو ته یې د خدایي درجه ورکړه لکه چې د عیسی علیه السلام امت خپل رسول د خدای جل جلاله زوی، او له دریو خدایانو څخه یوه خدای وگانه.

د نورو انسانانو په څیر ښاغلی اشرف غني د یو انسان په توگه کولای شي چې په ځینو ځانگړو علومو کې مهارت ولري؛ خو له هغه نه جامع الکمالات جوړول او بالخصوص په اسلامي برخه کې له مودودي وروسته دویم لوی شخص گڼل پخپله دهغه د شخصیت یو ډول توهین دی، ددې مثال داسې دی لکه چې یو څوک ولسوال ته ولسمشر ووایي، ښکاره خبره ده چې ولسوال دغه الفاظ د خپل ځان لپاره طنز او توهین بولي؛ خو د اشرف غني اندیوالان فکر کوي چې د داسې القابو په کارولو سره د ولس په سترگو کې خاورې اچولی شي، او هغه جامع الکمالات ثابتولای شي؛ نه خیر اولس نه کوڼ دی او نه هم ړوند، هر څه پخپلو سترگو ویني او په خپلو غوږونو یې اوري او د قضاوت کولو فطري استعداد هم لري.

د ټاکنو په دویم پړاو کې دوه مخکښ کاندیدان ښاغلی ډاکتر عبدالله عبدالله او ښاغلی اشرف غني د ولس په منځ کې اوسېږي، ددوی دواړو په اړه قضاوت باید گران اولس ته پریښودل شي، دواړه نوماندان دی په غونډو او رسنیو کې د سالم رقابت له لارې خپل قابلیت او وړتیا ښکاره کړي؛ خو قضاوت دی اولس ته پرېږدي چې له دوی دواړو نه کوم یو د خپل استعداد له مخې د ولسمشرۍ قابل گڼي، نه ښایي د جعلي القابو په ورکولو د خلکو د گمراه کولو ناروا هڅې وشي څکه چې اصل قضاوت د اولس په لاس کې دی او دا ویښ ولس په هندوستان کې د شل گزو د ټوپ وهلو ددعوی پرځای د عمل په ډگر کې مخامخ ثبوت غواړي چې متأسفانه اشرف غني تراوسه د عمل په ډگر کې د ولس په قانع کولو کې په مطلق ډول پاتې راغلی دی، نه یې د اقتصاد په برخه کې قانع کوونکی پلان وړاندې کړی او نه یې هم په اسلامي علومو کې.

په ټاکنو کې د ځوانانو اخلاقي معیارونو ته یوه لنډه کتنه

فروغګر

که تاسې د نړۍ د ملتونو بشري جغرافیه وڅېړئ، هیڅ هېواد به داسې ونه مومئ چې له ګڼو قومونو، ادیانو او مذاهبو نه وي جوړ شوی؛ مګر د خاورې، ګډ انساني ژوند او ګډو فرهنګي مشترکاتو له مخې یې ملتونه جوړ کړي دي او ښه سوکاله ژوند لري، د ملتونو د اولسي پرګنو ترمنځ د تبعیض مسأله هغه اجندا ده چې برتانوي استعمار، روسي ښکېلاک او نورو استعماري هېوادونو، ددې لپاره مطرح کړې چې د درېمې نړۍ پر هېوادونو یې ښکېلاکي ولکه ثابته پاتې شي او ان د پېړیو په اوږدو کې دغه اولسونه په خپلو کې سره مصروف وساتي او دوی یې له خامو موادو او بشري ځواکه استشماري ګټه واخلي.

د انګریزانو سیاسي مقوله یا ضرب المثل دی چې وایي: Divide and rule

تفرقه واچوه او حکومت وکړه!

لینن د روسیې د کمونستی اغتشاش سرلاری خپلو ملګرو ته وایي:

«کله چې په کوم هېواد کې ستاسې انقلاب ناکامېږي او یا مو حکومت نسکورېږي خپلو ملګرو ته دنده ورکړئ چې په هغه هېواد کې قومي، ژبني، سیمه ییز او دیني توپیرونو ته لمن ووهي او جنګیالي مو له ازادی بخښونکو او یا بیلتون غوښتونکو سره یو ځای شي چې د تاوتریخوالو په پایله کې تاسې ته یو ځل بیا د قدرت د ترلاسه کولو چانس په لاس درشي.»

له هغه مهاله راهیسې چې د نجیب حکومت لا نه و ړنګ شوی د KGB او دهغه مهال «خاد» هڅه کوله چې د افغان ملت د اولسونو ترمنځ تربګنیو ته لمن ووهي چې وروسته بیا نورو ګومارل شویو کړیو دغو تربګنیو ته دومره لمن ووهله چې د همدغې کرکجنې مفکورې پر نیت جګړې هم وشوې، ډېری خلک هم له خپلو کورونو بې ځایه شول، ددې افراط په وړاندې د اوسني نظام مخالفینو د دښمنو کړیو له خوا ماموریت واخیست چې د هېواد شمال او جنوب پلان شوې توطیې ته لا لمن ووهي، چې د دوی ځو کلنه واکمنۍ په دې اړه زمونږ پر ټولنې خورا ژورې اغیزې پرې ایستلې له بده مرغه د بهرنیو ځواکونو ۱۳ کلن حضور هم ددې لامل شو چې د قومي تربګنیو ریښې لا زمونږ په ټولنه کې پیاوړې کړي.

زمونږ د سږنو ټاکنو په بهیر کې د اړوندو کړیو د استازو ځرګندونې، تلویزیوني کردی میزونو، مطبوعاتي پروپاګندې ورځ تر بلې زیات پر دې اورتیل شیندل.

فیس بوکي ځوانانو خو دومره مخکې لاړل چې ټول اخلاقي ارزښتونه یې تر پښو لاندې کړل، شرموونکي کاریکاتورونه، په فوټوشاپ کې د نوماندانو جعل کول، توهین آمیزو پوسټونو او کمنټونو، همدارنګه ځینې مزدورو ویب سایټونو د قومي، ژبني او سیمه ایزو تربګنیو او توپیرونو اور ته دومره لمن ووهله چې له هر اړخه له انساني اخلاقي ارزښتونو سره یې ډېره نه لګوله.

له بده مرغه چې ددغو فیس بوکي خپرونو ډېری خواوی ځوانان دي، دوی داسې تصور کوي چې موږ ځوک نهویني، زمونږ په ژبه ځوک نه پوهېږي، دغه پوسټونه او تعلیقات په نړیوالو رسنیزو بنسټونو کې نه ژباړل کېږي او د فیس بوک مرکز ددوی د ځرګندونو په ساتلو کې خورا امین دي، حال دا چې ددوی دا ټولې انګېرنې ددوی د توقع پرخلاف جاسوسي سازمانونو او د دښمنو هېوادونو رهبرانو ته ژباړل کېږي، ددې محاسبې له مخې زمونږه ځوانانو د ټاکنو په برخه کې روغ دریځ نه درلود او زه لا ویرېږم چې بالاخره دغه لیکنې، تبصرې، پوسټونه، کمنټونه او نوری خپرنیز توکي زمونږه مثقفه ټولنه ناورین ته کش نکړي.

زمونږ د ځوانانو دنده ده او زمونږ اولس، هېواد او ملي حاکمیت ترې غواړي چې:

الف: د تعصب پر ضد مبارزه وکړي نه دا چې ددغه تعصب یوه برخه شي اوپه خدمت کې یې خپل اخلاقي شخصیت وبایلي.

ب: باید خپل نوماندان د بت په څېر ونه نمانځي؛ بلکې پر واقعیتونو ولاړ تبلیغات ورته وکړي.

ج: د خپلو نوماندانو په ستایلو کې دومره مخکې مه ځئ چې حق پرې زیندی شي.

د: اوس چې د دوو مخکښو نوماندانو په مطرح کېدو، ټاکنې دوهم پړاو ته لېږدول شوې دي، د مثبت فکر پر آرونو او اصولو باندې، ملت ټاکنو ته وبولئ، هڅه وکړئ چې د دواړو نوماندانو ترمنځ د سیاسي انتقام انګېرنې پیاوړې نشي، په سره سینه مبارزه وکړئ او په خپلو هلو ځلو کې هغه کسان اصلاح ته دعوت کړئ چې قومي، ژبني او سیمه ایزو تربګنیو، توپیرونو او ښېګڼو ته نور لمن ونه وهي، په دې هېواد کې ټول وګړي - وګړي دي، انساني کرامت لري، له فردي او اجتماعي ارزښتونو سره دنیا ته راغلي او غواړي چې د همدغه غوره فرهنګ په چاپیریال کې ژوند وکړي، مه پرېږدئ چې دغه چاپیریال د تربګنیو، تاوتریخوالو او ناورینونو قرباني شي او هېواد مو خدای مکړه بلې خوا ته لاړ شي.

هـ: که پښتانه یاست که تاجک، ازبک، هزاره او یا په نورو افغان قومونو پورې تړاو لري، لوړی سلطان محمود غزنوي ته وګورئ چې په خپل پوځ کې یې څومره پښتانه درلودل، بیا احمدشاه بابا ته وګورئ چې په خپل پوځ کې یې څومره پیاوړي تاجک او نورو قومونو جنرالان درلودل، بیا د افغانستان ټول تاریخ وکسئ چې چیرته هم د قومونو ترمنځ داسې انګیرنې پیدا شوې دي چې قومي آرونه وپالي؟!!

و: د افغان قومونو ترمنځ فاصلې له منځه یوسئ او د ملي وحدت په لاره کې له مبارزې مه ستړي کېږئ، ځکه ستاسې ددې کار پایله؛

سوله، امنیت او د هېواد آبادی ده؛ هېواد آباد تاسې آباد.

په اسلام کې د کوچنیانو حقوق

نصرالله

د غبرګولي په یولسمه د کابل په شمول د هېواد په ګڼو ولایتونو کې د ماشومانو نړیواله ورځ ونمانځل شوه، که څه هم دغه ورځ هر کال نمانځل کېږي؛ خو په افغانستان کې لا تراوسه پورې د نمانځنې پرته ماشومانو ته هیڅ ګټه نه ده رسیدلی؛ بلکې ورځ تر بلې د ماشومانو ستونزې نور هم زیاتېږي. زموږ د افغانانو ستر مشکل دا دی چې خبرې ډېرې کوي خو عمل کم. په داسې حال کې چې تر څو پورې خبرو ته عملي بڼه ورنکړای شي هیڅ نتیجه نه ورکوي. همدا لامل دی چې زموږ هېواد د ژوند په ټولو ډګرونو کې وروسته پاتې دی.

زموږ د اسلام په سپېڅلی دین کې د هر چا حقوق ځرګند دي، پر مور پلار او د ټولنې پر نورو وګړو چې کوچنیان کوم حقونه لري هغه هر چاته ځرګند دي، حکومتي چارواکي ترینه هم خبر دی او ولس هم. زموږ ستر لارښود حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دغه حدیث شریف چې: ((من لم یرحم علی صغیرنا فلیس منا)) موږ ټولو افغانانو لپاره ستر درس دی او موږ ته دا لارښوونه کوي چې تر څو پورې زما امتیان پخپلو کوچنیانو رحم او شفقت ونکړي زما په امت کې ځای نلري. له دغه مبارک حدیث نه دا عبرت ترلاسه کېږي چې زموږ په سپېڅلی دین کې پر ماشومانو رحم او شفقت کول زموږ د اسلام او ایمان بنسټیزه برخه جوړوي. د الله آخري استازی حضرت محمد صلی الله علیه وسلم به چې کله په لمونځ کې د ماشومانو د ژړا غږ تر غوږ شو؛ نو لمونځ به یې ژر خلاصوله چې په مسجد کې موجودې مورګانې خپلو ماشومانو ته ځان ورسوي او د خپل شفقت له مخې، غیږ ته نژدی او غلی کړي. همداراز د احادیثو په معتبرو کتابونو کې راځي چې په ځینو وختونو کې به داسې هم پېښیدل چې کله به رسول الله صلی الله علیه وسلم په نفلي لمونځونو کې سجدې ته لاړ؛ نو امام حسین او حسن به دهغه صلی الله علیه وسلم پر ملا سوریدل، مګر محمد صلی الله علیه وسلم ددې پرځای چې پر هغوی غصه وکړي او ویې رټي دهغوی د خوښې په خاطر به سجده اوږدوله. په حدیث شریف کې دا هم راغلي چې یو ځل محمد صلی الله علیه وسلم له منبر نه حضرت امام حسین او حسن ته کوز شو او هغوی یې پخپل غیږ کې ونیول او ویې فرمایل چې حسن او حسین دواړه د جنت ځوانان دي. راځئ فکر وکړو چې په اسلام کې کوچنیانو ته څومره اهمیت ورکول شوی او دهغوی د خوشحال ساتلو لپاره څومره تاکید شوی.

له حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دی چې په وړکتوب کې ما پوره لس کاله د محمد صلی الله علیه وسلم په خدمت کې تیر کړل؛ مګر محمد صلی الله علیه وسلم په دې لسو کلو کې ماته له شفقت پرته چیرته اف قدرې هم نه دي ویلې.

په یو بل حدیث کې راځي چې له یمن نه حضرت زید بن حارثه په وړوکتوب کې غلو وتښتاو او بیا یې په مکه کې خرڅ کړ چې بالاخر د رسول الله صلی الله علیه وسلم یوې بي بي په لاس ورغی.

کله چې دهغه پلار او تره خبر شول چې دهغه زوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په کور کې دی؛ نو په ډېر خوښي راغلل او محمد صلی الله علیه وسلم ته یې وویل: دا ماشوم زموږ زوی دی، محمد صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: صحیح ده، ستاسې زوی ستاسې په وړاندې دی که چیرته له تاسو سره ځي؛ نو زما وربانديې هیڅ اعتراض او نیوکه نشته، مګر زید بن حارثه له خپل پلار سره له تللو نه انکار وکړ او ویې ویل چې زه همدلته له محمد صلی الله علیه وسلم سره خوښ یم. تاسې پخپله اندازه ولګوئ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ماشومانو ته څومره پاملرنه کوله او څومره خوشحال یې ساتل. نور که هر څه پرېږدو او د محمد صلی الله علیه وسلم د امتې په توګه صرف دهغه صلی الله علیه وسلم په هغه حدیث عمل وکړو چې فرمایي: چا چې زموږ پر صغیرانو رحم ونکړه هغه زما له ډلې څخه نه دی؛ نو دا جدي پیغام به ترلاسه کړي چې د ماشومانو حقوق او پرهغوی شفقت پر موږ حتمي او لازمي دی، دا حدیث شریف دومره جامع دی چې په دې کې د ماشوم له ښوونې او روزنې نیولې تر اخلاق او دهغه د صحت او نورو ټولو اړتیاو په اړه لارښوونه شوی ده چې مشران یې باید ترسره کړي؛ مګر متأسفانه د دومره ځرګندو اوامرو باوجود بیا هم زموږ په هېواد کې د ماشومانو حقوق تر پښو لاندې شوي دي چې ددې لوی مسؤولیت د چارواکو پر غاړه دی چې د کوچنیانو د حقوقو د تحقق لپاره یې تراوسه مؤثر ګام نه دی اخستی؛ خو هر کال په ډیره سپین سترګۍ د کوچنیانو د نړیواله ورځ په نمانځ غونډو کې دهغوی د حقوقو ترانې وایي؛ مګر عمل وربانديې نه کوي. که د حکومتي چارواکو د غفلت دا حال وي نو د ماشومانو حقوق به ځنګه تأمینېږي؟ ځکه چې د ماشومانو د حقوقو د تحقق لپاره د پیسو د پنډ ضرورت دی او دا د حکومت مسؤولیت دی چې پخپل کلنۍ بودجه کې د ماشومانو د ستونزو د حل لپاره بودجه ځانګړی کړي.

انتخابات دور دوم ریاست جمهوری و ...

(ادامه از صفحه اول)

بدون شک دولت موجودهٔ افغانستان در بسا موارد یا به عبارت دیگر موارد اساسی خیلی ضعیف عمل کرده است. علاوه بر آن که کشورهای بیرونی از روی یک مهندسی میخواهند افغانستان دارای یک دولت ضعیف باشد، خود دولت هم مواردی را بوجود آورد که دولت نتواند بپای خود بایستد.

در سیزده سال گذشته یک فرد در رأس هرم اقتدار قرار داشت، بناءً سیاستهای او در سیزده سال گذشته کدام تغییر قابل ملاحظه یی نه یافت و به اصطلاح عامیانه همان درک و همان خرک بود؛ ولی اگر دولت موجود آنچنان که تشویش موجود است در راه دور دوم انتخابات و شمارش عادلانه و شفاف انتخابات و اعلان نتایج آن سنگ اندازی نکند و بگذارد یک حکومت منتخب مردم جای حکومت یا دولت موجود را بگیرد، دولت آینده هم چالشهای فراوانی فرا راه خود دارد؛ زیرا همه مشکلات تنها با آمدن دولت جدید حل نمیشود، بلکه در کنترول آوردن اینهمه مشکلات و چالشها هم از خود فرصت میخواهد و هم تصمیم و ارادهٔ سیاسی و هم وسایل و امکانات.

یکی از بدبختیهای افغانستان این است که یکی برای تداوم اقتدار می اندیشد، دیگری قومی می اندیشد و دیگر هم گروهی. در حالی که افغانستان خانهٔ مشترک همهٔ افغانهاست، امتیاز تیم برنده در انتخابات این خواهد بود که جلو کاروان ترقی، تعالی، صلح و ثبات در کشور بدست او قرار خواهد داشت؛ ولی دیگران هم نباید فکر کنند ازینکه ما انتخابات را باخته ایم پس در برابر کشور و ملت هیچ مسؤولیتی نداریم، فلهذا ما باید به حیث هر فرد مسؤولیت پذیر بوده، در ادای مسؤولیت کوشا باشیم.

افغانستان از یک مرحلهٔ بسیار حساس تاریخی میگذرد، دشمنان خاک، منافع و ارزشهای ما از هر سو در کمین نشسته اند، حضور نیروهای خارجی در کشور که خود را کم از کم در دفع مداخلات خارجی در کشور ما متعهد نمیداند و در بسا موارد بر آن چشم پوشی نیز میکند مشکل عمدهٔ دیگر است و این حضور خیلی از کشورهای منطقه را که ازین حضور احساس خطر میکنند، در برابر افغانستان حساستر ساخته است؛ چنانچه برخی از رؤسای جمهور کشورهای همسایه درین رابطه حتی حین سفر به کابل هم اظهار نگرانی کرده اند و بنحوی کشور ما را اشغال شده خطاب کرده اند.

علاوه بر آن یک بخش عمدهٔ بودجهٔ عادی و انکشافی ما را کشورهای بیرونی با منت گذاشتن های فراوان تهیه مکنند، فلهذا می دانیم که این وضع تا دیری پاییده نمیتواند و نه هم باید بپاید، باید این وضع تغییر یابد. انتخابات پدیده یی نیست که تنها افغانستان شاهد آن است، بلکه این جریان در تمام کشورهای جمهوری در دنیا جریان دارد و افغانستان که اینک بار سوم است آنرا تجربه میکند. بناءً انتخابات بین تیمهای مختلف در حقیقت حیثیت یک مسابقهٔ دوستانه بین دو تیم سپورتی را میتواند داشته باشد. که پیروزی تیم برنده باید تیم مقابل را در آستانهٔ دشمنی با تیم مقابل قرار ندهد.

تیمهای انتخاباتی برنامه های خود را حتی در دور اول انتخابات عرضه کرده اند و افراد ملت هم هر کدام بتناسب فهم و دانش خود در آن باره اندیشیده و رأی داده است که در دور دوم هم داهیانه تر از گذشته عمل خواهند کرد.

پس افتخار تیم حاکم فعلی این خواهد بود که اگر افتخار دیگری آفریده نتوانست یک انتخابات عادلانه، شفاف و بدون مداخله را در کشور نهادینه کند و این را به عنوان یک سنت حسنه به آیندگان بجا بگذارد. امروز همه کس چشم دارد و گوش دارد. بقول بیدل:

همه کارم ز خود کامی به بدنامی کشید آخر
نهان کی ماند آن رازی کازو سازند محفلها

من باور دارم نجواهایی که بخاطر به بیراهه کشانیدن انتخابات صورت میگیرد، پنهان نمیماند پس بهتر است رو سیاهی از خود باقی نگذارند و آنانی که در انتخابات ۲۴ جوزا پیروز میشوند با یک سعه صدر وارد کارزار عرضهٔ خدمات به ملت و کشور شوند که بقول سعدی:

عبادت بجز خدمت خلق نیست
به تسبیح و سجاده و دلق نیست

شهادت
اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکې اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال
مرستیال مدیر: عبدالخلیل خلیل

د اړیکو شمیرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۷۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
۰۷۰۰۲۰۲۲۰۱

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوې مطالب نه ستردیږي. بوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه، کابل | Email Add: shahadatnews.kabul@gmail.com

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

لویدیځو ورځپاڼو د برګدال او ۵ طالب مشرانو د خوشې کیدو په اړه مقالې لیکلې

زیات شمیر لویدیځو ورځپاڼو په وروستیو ګڼو کې په افغانستان کې د امریکایي پوځي بووې برګدال او پنځو تنو جګ پوړو طالب مشرانو د خوشې کیدو او افغانستان ته د امریکا د دفاع وزیر چیک هیګل د سفر په اړه مضمونونه او مقالې خپرې کړې دي.

انګلستان چاپ یوې ورځپاڼې د جګړې د اغیز او ستونزو په اړه یو تحلیلي مضمون خپور کړی دی.

امریکا چاپ، کریسچن ساینس مانیټر ورځپاڼه په یوه مضمون کې لیکي:

د امریکا د پوځ بریدمن بووې برګدال چې پنځه کاله د طالبانو په اسارت کې و، د پنځو طالب بندیانو د خوشې کیدو په بدل کې ازاد شو او د طالبانو بندیان قطري چارواکو ته سپارل شوي دي.

ورځپاڼه لیکي:

جمهور رئیس بارک اوباما د برګدال د خوشې کیدو په اړه وویل:

"موږ دغه راز زیات شمیر هغه امریکایي عسکر رایه یادوو چې د امریکا په تیرو جګړو کې لادرکه شوي دي.

د بریدمن برګدال ژغورل او خلاصون د امریکا د هغه قوي او نه ماتیدونکي تعهد څرګندونه ده چې نه غواړي هیڅ عسکر د جګړې په ډګر کې شاته پریږدي."

کریسچن ساینس مانیټر ورځپاڼه وړاندې لیکي:

د برګدال او پنځو تنو طالب بندیانو تبادله د امریکا او طالبانو ترمنځ د پټو او غیرمستقیمو خبرو پر اساس چې د قطر حکومت یې منځګړتوب کاوه، شوې ده.

د قطر حکومت د جګ پوړو طالب بندیانو چې په ګوانتانامو کې بندیان وو، دا مهال ساتنه کوي.

ورځپاڼه لیکي:

د معاملې د شرایطو پراساس به خوشې شوي پنځه تنه طالب بندیان تریوه کاله پورې له قطر څخه د وتلو اجازه ونه لري.

کریسچن ساینس مانیټر زیاتوي، امریکایي چارواکي په دې باور دي چې برګدال د اسارت مودې په زیاته برخه کې په پاکستان کې ساتل شوی و او دا نه ده معلومه چې نوموړی کله د افغانستان ختیځ ته انتقال شوی و.

ورځپاڼه د امریکایي چارواکو په حواله لیکي: په خوشې شویو پنځو کسانو کې څلورتنه د طالبانو جګ پوړي مشران دي او یو یې د حقاني شبکې غړی دی.

دا کسان د ۲۰۰۱ کال په وروستیو او د ۲۰۰۲ م کال په لومړیو کې د طالبانو د رژیم د رنګیدو پر مهال نیول شوي وو او په ګوانتانامو کې بندیان وو.

په دوی کې د طالبانو په رژیم کې د کورنیو چارو وزیر خیرالله خیرخواه، د طالبانو مرستیال دفاع وزیر مولوي محمد فضل، د طالبانو په واکمنۍ کې د بلخ والي ملا نورالله نوري او د طالبانو د استخباراتو مرستیال رئیس او د دې غورځنګ موسس عبدالحق واثق شامل دي.

پنځم کس محمد نبي دی چې د طالبانو په رژیم کې یې جګه څوکۍ نه درلوده خو ویل کیږي چې د حقاني شبکې سره تړاو لري.

ورځپاڼه د امریکا د سینې مالي اعلامیې ته په اشارې سره لیکي:

د امریکا د ملي امنیت شورې ویلې چې له طالبانو سره د امریکا د جوړجاړې هلې ځلې د ۲۰۱۰م کال نومبر میاشت کې پیل شوې وې او د ۲۰۱۱م کال مې میاشتې راهیسې د برګدال خوشې کیدل د خبرو او مذاکرو اصلي مسله وه.

په دې ټوله موده کې زموږ هلې ځلې د امریکا د حکومت د جګ پوړو مشرانو له خوا تنظیمیدلې.

انګلستان چاپ ډیلي ټیلګراف ورځپاڼې په یوه مضمون کې د ډیویډ ریچاردز مقاله خپره کړې چې سرلیک یې دی: ځینې وختونه له جګړې پرته بله چاره نه وي.

لیکوال له ځینو څرګندونو وروسته لیکي: چا چې جګړې ځېرلې او یا یې تجربې لري، په لومړي سر کې د جګړې د مخنیوي په اړتیا ممکن ټینګار وکړي. خو تاریخ روښانه دی او په ځینو وختونو کې له جګړې پرته بله چاره هم نه پاتې کیږي، سړی د خپل ځان او خپلو دوستانو په اړه فکر نه کوي او د ښو او بدو تفکیک هم په کې نه کیږي.

برادر شهیدم انجنیر محمد...

... با برادران مسلمان در ارتباط بوده و احساس مبارزه علیه ظلم و استبداد در ضمیرش بیدار بود تا اینکه در سال ۱۳۵۰ با دعوت برادرش به صفوف نهضت اسلامی پیوست. شهید سعادت دعوت اسلامی برادران را مسؤولانه پذیرفت و در قطار داعیان نور قرار گرفت. شهید انجنیر سعادت در سال ۱۳۶۰ در اثر فعالیت های شهری بر ضد حکومت کمونیستی روانه زندان گردیده، مدت سیزده ماه را در سلول های سیاه زندان پلچرخی سپری نمود و دوباره آزاد گردید. آتش احساس و مسؤولیت مبارزه او را آرام نگذاشت بیشتر از پیش به فعالیت های شهری بر ضد نوکران حلقه بگوش روس ادامه داده، نظر به دستور برادران مسؤول خود جهت تطبیق برنامه ها در داخل شهر باقی ماند.

برادر شهید سعادت بار دوم در حالیکه در انستیتوت میخانیکی کابل ایفای وظیفه میکرد دستگیر شده روانه زندان گردید و بعد از سپری نمودن پنج ماه حبس از خارنوالی قوای مسلح حکومت خلق و پرچم فرار نموده و در جبهه ده سبز با انجنیر صاحب جلال الدین شهید پیوست.

با اشتراک در جهاد مسلحانه و اشتراک در عملیاتهای شهادت طلبانه راهی دیار هجرت شد، و مدت دو سال را در غند الفتح مقیم جاجی به حیث مسؤول اداری و قوماندان بلوک در خدمت مجاهدین بود. سرانجام در اثنای که با دشمن سفاک روس ها و هواداران آنها مصروف جهاد بود در ولسوالی جاجی ولایت پکتیا به اثر اصابت مرمی های BM41 در جبهه حق علیه باطل به تاریخ ۱۳/ ۳ / ۱۳۶۶ جام شهادت نوشیده و جهان فانی را وداع گفت.

(روحش شاد و یادش گرامی باد)

اعلان حمایت شورای عالی ...

صدها چالش خارجی و داخلی قرار دارد یگانه تیمی که میتواند در برابر این چالش ها ایستاده گی نماید تیم اصلاحات و همگرایی است چرا که این تیم از سه حزب بزرگ سیاسی جهادی کشور حزب اسلامی افغانستان به رهبری عبدالهادی ارغندیوال و جمعیت اسلامی افغانستان به رهبری صلاح الدین ربانی و حزب وحدت اسلامی مردم افغانستان برهبری استاد محمد محقق تشکیل شده است. این تیم، تیم مردمی و مجاهد است که انجنیر صاحب محمد خان معاون اول داکتر صاحب عبدالله عبدالله شخصیت جهادی و چهره شناخته شده کشور است. هیئت رهبری شورا از تمام اعضای شورا و متعهدین خویش خواست که در انتخابات اشتراک و از تیم اصلاحات و همگرایی حمایت و پشتیبانی نمایند و به رؤسای شورا دستور داده شد که خانه به خانه رفته مردم را ذهنیت بدهد تا رای خویش را به تیم اصلاحات و همگرایی جناب داکتر صاحب عبدالله عبدالله استعمال نمایند.

جلسه به دعای خیر و پیروزی تیم اصلاحات و همگرایی خاتمه یافت.

با احترام،

عبدالحمید نصرت

رئیس تشکیلات شورا

استقبال هزاران تن باشنده...

داکتر عبدالله عبدالله به باشندگان ولایت بادغیس وعده می دهد.

تیم اصلاحات و همگرایی برنامه های مدونی برای توسعه اقتصادی، معارف و تحصیلات عالی، برگشت بی جاشدگان داخلی، باز سازی و نوسازی، محو بی کاری و رشد منابع بشری روی دست دارد.

اعضای تیم اصلاحات و همگرایی دامن زدن به مسایل قومی و زبانی را در کشور به نفع افغانستان و مردم نمی داند.

در حالی داکتر عبدالله عبدالله رهبر تیم انتخاباتی اصلاحات و همگرایی در میان هواداران این تیم در ولایت بادغیس حضور یافت که در روز های آینده، اعضای این تیم در میان هواداران خود در ولایت های دیگر کشور نیز حضور می یابند.

که له پاکستان سره ډیپلوما...

خپلې راکټي او هوایي حملې بندې نه کړي، افغان حکومت به یې هم په وړاندې پوځي اقدام وکړي.

د دغه وزارت چارواکي وایي، د افغانستان پرخاورې د پاکستان د راکټي او هوایي حملو د دوام په اړوند بې د افغان حکومت د اندیښنې د ښکاره کولو په خاطر په کابل کې د دغه هیواد سفارت ته څو ځله یاد داشتونه لیږلي چې ژر تر ژره دا حملې بندې کړي.

د بهرنیو چارو وزارت ویاند احمدشکیب مستغني د دوشنبې په ورځ په کابل کې په یوه خبري غونډه کې وویل، د پاکستان سفارت ته د دوی له خوا په یوه لیږل شوي مکتوب کې د افغانستان پرخاوره د پاکستان دا حملې د دې هیواد د ملي واکمنۍ او خپلواکۍ د تر پښو لاندې کولو په معنی بلل شوي.

ښاغلي مستغني وایي، له امریکا متحده ایالتونو څخه چې له افغانستان سره ستراتیژیک تړون هم لري غوښتل شوي چې د یادو حملو په اړوند خپل دریځ روښانه کړي؛

"له کومه ځایه چې د امریکا متحده ایالتونه د افغانستان د ملګرې او ستراتیژیک همکار په توګه له افغان لوري سره د امنیت د ټینګښت او دفاعي همکاریو لپاره متعهد دي لازمه ده چې په دې برخه کې د افغان دولت د برحقه دریځ ملاتړ وکړي چې له خپلې خاورې څخه د بهرنۍ یرغل او حملې په وړاندې ساتنه ده.

افغان لوری د دې تمه لري چې د امریکا متحده ایالتونو حکومت د خپلو دفاعي اقداماتو او کارونو د څرنګوالي په اړه ژر تر ژره معلومات ورکړي."

ښاغلي مستغني وویل د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د پاکستان د راکټي او هوایي حملو په خاطر تېره اونۍ په کابل کې ددې هیواد سفیر ور وغوښت خو خپلې اندیښنې ورسره شریکې کړي.

دا اندیښنې په داسې حال کې مطرح شوې چې د روانې اونۍ په پیل کې د پاکستان پوځي هیلیکوپټرو د کونړ ولایت په دانګام ولسوالۍ کې یوه سرحدي سیمه بمبار کړه چې څلور ملکیان پکې ووژل شول او نږدې شل نور ټپیان شول.

په همدې حال کې یو شمیر افغان کارپوهان وایي چې امریکا باید په ورته حالت کې د افغانستان ملاتړ وکړي.

یوه افغان کارپوه زبیرشفیقي له ازادي راډیو سره په خبرو کې وویل که چیرې امریکا د افغانستان پر خاورې د پاکستان د راکټي او هوایي حملو په خاطر کوم غبرګون ښکاره نه کړي له هغه هیواد سره به د ستراتیژیک سند لړل بې ځایه وي:

"امریکا په افغانستان کې یواځې خپلو اهدافو ته متعهد ده. د افغانستان د ولس او د دولت ملي حاکمیت او حتی مستقل حیثیت په رسمیت نه پیژني.

همدغه لامل دی چې متاسفانه نن د نړیوالې ټولنې په تېره د امریکا او افغانستان ترمنځ اختلافونه زور شوي بې اعتمادي زیاتې شوې او دغه بې اعتمادي نورې هم په همدغسې کارونو زیاتیږي."

افغان حکومت وایي، تل یې له ډیپلوماتیکو لارو هڅه کړې چې د افغانستان پر خاورې د پاکستان د راکټي حملو مخه ونیسي خو کارپوهان او عام خلک وایي چې حکومت په دې کار نه دی بریالی شوی.

دا کارپوهان وایي افغان حکومت ته په کار ده چې ددې مسلې په اړوند په خپلو راتلونکو پروګرامونو له سره کتنه وکړي.

کرزی: امنیتي ځواکونه باید...

ولسمشر کرزي په خپل فرمان کې چې د دوشنبې په ورځ خپور شوی دی امنیتي ځواکونو ته دنده سپارلې ده چې د رایې اچوونې د مرکزونو، د ټاکنو د کمیسیون د کار کوونکو او رایې ورکوونکو امنیت خوندي کړي.

په دې فرمان کې همداراز د دفاع او کورنیو چارو له وزارتونو د ملي امنیت له ادارې څخه غوښتل شوي دي چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د غوښتنې پر اساس د ټاکنیزو موادو له لیږد او د هغوی د امنیت په ټینګولو کې مرسته وکړي. کرزي ویلي دي چې د کورنیو چارو وزارت باید د رایې اچوونې په مرکزونو کې په کافي اندازه ښځینه کار کوونکي هم ولري تر څو ښځینه رای ورکوونکې تلاشي کړي.

هرات کې د هندي موسسې...

د ښوونې او روزنې دودې په برخه کې فعالیت کاوه.

چارواکي وایي ښاغلی پریم کمار، چې د یوه ښوونځي د پرانیستلو په موخه د زنده جان ولسوالۍ ته تللی و، د سعادت په ښارګوټي کې تښتول شوی دی.

د دغه سړي تښتونې پړه چا تراوسه په غاړه نه ده اخیستې.

له دې مخکې د همدې هرات ښار په زړه کې د هندوستان پر کونسلګرۍ برید وشو، برید څو ساعته دوام وکړ خو د کونسلګرۍ ماموریتو ته په کې کوم زیان واله ونشت.

تېرو ۱۲ کلونو کې پلازمېنه کابل کې د هند پرسفارت، هندي کار کوونکو او انجینرانو هم بریدونه شوي دي چې مسوولیت یې وسله والو طالبانو منلی دی.

هند سیمه کې د افغانستان یو لوی دوست بلل کېږي چې تېرو ۱۲ کلونو کې د افغانستان د بیارغونې لپاره ستړې مالي مرستې کړې، چې کچه یې نږدې دوو میلیاردو ډالرو ته رسیږي.

دې ان وروستیو کې یې دا هم ویلي چې د افغان افسرانو پر روزنې سربېره افغان امنیتي ځواکونو ته به د پوځي وسایلو او تجهیزاتو په برابرولو کې هم مرسته کوي.